No. 5



دبد نیتی پایله (نتیجه)

PROPERTY OF ARIC KABUL

یادونه

دشانتي رضا کاره ټولنه وياړي چې د خپلو نورو ټولنيزو او ښوونيزو خدمتونو په لړ کې د افغان ماشومانو د ذهني او اخلاقي سالمې ودې لپاره د کيسه ايزو کتابونو په چاپولو پیل کوي.

دا چې د کيسو ويل د ماشومانو (کمکيانو) په ذهني وده ، اخلاقی روزنه ، د استعدادونو په غوړېدو ، د لغتونو د زېرمې په پیاوړتیا او دهغوی د معلوماتو په پراختیا کې خورا ارزښت لري، نو ځکه موتږ لويان، والدين او ښوونکي هڅوو او سپارښتنه کوو چې ماشومانو ته وخت په وخت اخلاقي او رزنيزې کيسې ووايې .

د يادولو وړ ده چې زمونږه چمتو شوې کيسې ټولې افغاني کيسې دي او په افغاني ټولنه کې د پخوا څخه موجودې او تر اوسه د خلکو په منځ کې په دوديزه توګه ويل کېږي.

دا دی په دې لړ کې د(بدنيتۍ پايله) کيسه په انځوريزه بڼه نازولو ماشومانو ته وړاندې کوو.

هيله ده چې ګلالي ماشومان دغه کيسه په مينه،مينه ولولي،خوند اوګټه ترې واخلي.

مونږ به ګرانو کمکيانو ته چې د سبا ټولنې مشران دي دغه ډول نورې روزنيزې کيسې هم ډالۍ کړو .

په مينه

د شانتي رضا کاره ټولنه

(SVA)

یوه ورځ درې ملګري په لاره روان وو، په لاره کې یې د سروزرو نه ډکه کڅوړه وموندله .

PROPERTY OF ACKU 12595


دريڅ واړو فيصله وکړه چې دغه سره زر به دريڅ تقسيمه کړو .

خو مخکې له دې چې سره زر وويشو ،باید ډوډۍ وخورو، ځکه چې ډېر
وږي شوي یو ، نو ...


۴
خپل یو ملګری یې د ډوډۍ راوړلو لپاره بازار ته ولیږه .


۵
پاتې دوه ملګرو يې په خپلو کې مشوره وکړه : کله چې دريم ملګرى
ډوډۍ راوړي هغه به مړ کړو او سره زر به په خپل منځ کې وويشو .



۶
خو ددوی لومړی ملګری چې بازار ته تللی و.



په ډوډۍ (ننګولي) کې يې ددې لپاره
زهر ګډ کړل چې هغه دوه ملګري يې
مړه شي او سره زر يوازې ده ته پاتې شي.

کله چې يې لومړی ملګری د بازار څخه راغی نو .

دوه نورو ملګرو یې پرې حمله وکړه او هغه یې مړ کړ.

پاتې دوه ملګرويې ووېل: اول به ډوډۍ وخورو او بيا به سره زر په خپلو کې وو يشوو ،
کله چې يې ډوډۍ وخوړله ، لږه شېبه وروسته دوی دواړه هم مړه شول ، ځکه چې په
ننګولي کې زهر ګډ شوي وو.دبدنيتی له کبله درې واړه مړه شول او د سرو زرو ډکه
کڅوړه نېك نيتانو ته پاتې شوه.

پای

پوښتنې

۱- په دې کيسه کې څو ملګري وو ؟
۲- دوی ښه ملګري وو او که خراب ؟
۳- ستاسې څنګه ملګري خوښېږي؟
۴- د سرو زرو کڅوړه چاته پاتې شوه ؟

پاملرنه ! کتابونه زموږ او ستاسې تل پاتې ملګري دي ، نو د کتابونو ښه ساتنه زمونږ د ټولو دنده ، ده

د شانتي د رضاکاره ټولنې پروګرام

خپروونکې اداره : د شانتي رضاکاره ټولنه (SVA)
سیمه ایز کواردیناتور : وحید احمد (زماني)
د کتابوتون څانګه د شانتي رشاکاره ټولنې ټول کارکوونکي .
د محمد حنیف (صافي) په زیار.
کتنپلاوی:- حبیب الله زړه سواند (شینواری) پوهنیار عبدالوحید ، پوهنیار عبدالرشید، پوهیالی علاوالدین ، پوهیالی یارمحمد او نقیب الله .
د چاپ اجازه : د ښوونې او روزنې وزارت .
انځورګر : قاري احسان الله.
کمپوزر: دیپلوم انجینر شایق
دچاپ ځای : شایق ګرافیك کمپیوټري مطبعه (جلال آباد افغانستان)
د چاپ کال : ۲۰۰۳ - ۱۳۸۲
پته : دښوونې او روزنې پوهنځي شاته ، دوهمه کوڅه ، دریم کور دشانتي رضاکاره ټولنې دفتر ، جلال آباد - افغانستان .
دسټلایټ لمبر: ۰۰۸۷۳۷۶۱۹۳۳۵۴۷
د چاپ او نور ټول حقوق خپروونکي (SVA) ته خوندي دي
All rights are reserved to (SVA)

PROPERTY OF ACKU 12595



The result of untruth

PROPERTY OF ARIC KABUL

anti
unteer
ociation

Supported by : JAPAN PLATFORM